بریالی هلمند ۲۰۱۵/۰۹/۱۴

پنځه دیرشم ولایت



هلمند د افغانستان تر ټولو ستر ولایت دی چې په ۱۹۶۴ کال کې یې لښکرګاه د مرکز په توګه غوره سوه او دا اداري واحد ته د هلمند نوم ورکړل سو، که د مساحت له رویه هلمند له کاپیسا سر مقایسه کړو نو د کاپیسا ۳۱ برابره کیږي او که یې چیري له ننګرهار سره پرتله کړو نو د ننګرهار ۷ برابره کیږي، له دې پرتلې څخه معلومیږي چې دا څومره ستره او پراخه سیمه ده او که یې اوبو او ځمکو ته حساب وسي نو ډیر زیات پوتانسیال پکښې دي او دا ولایت د افغانستان غوندي دیوه زراعتي هیواد په منځ کې یو ډیر مهم او ارزښتناکه فرصت دی چې خپلې اوبه، ځمکه او بریښنا لري. خو بدبختانه اوس دغه زرین فرصت په یوه ورانوونکي ګواښ بدل سوی دی. دا چې ولې داسې سوی دي، چا داسې وکړه او کله داسې سوي دي دا ډېر لاملونه لري چې په یوه جلا بحث کې پر ږغیدای سو. اوس مهمه داده چې هغه هلمند چې یوخت زرین فرصت وو څنګه کولای سو چې د یوه تبا کوونکي ګواښ له حالت څخه یې راوباسو. که څه هم دا ممکنه ده چې هلمند بیرته په یوه فرصت بدل کړو خو اوس هغه امکانات او موقع له لاسه وتلې ده چې په لنډ وخت کې دا کار وسي.

هلمند د طالبانو په نظام کې د جنګي ځواک مرکزي قوه وه، زیاتره جنګي طالبان د کندهار، هلمند، ارزګان، زابل ولایتونو څخه وه او په دې ولایتونو کې ډیری د هلمند او ارزګان څخه وه. په هلمند کې بیا ډیری طالبان د شمالي هلمند وه.

کله چې د طالبانو د نظام تر نسکوریدو وروسته د بن په کانفرانس کې د نوي افغان دولت بنسټ کیښودل سو نو له هغه وخت څخه رانیولې بیا تر نن ورځې پورې هغه سیمو او خلکو چې طالب نظام په جوړ وو هغو ته په نظام او سیاسي ویش کې څه ورنکول سوه. دا یوه ډیره ساده سیاسي مسئله ده چې په جنوب او خصوصاً په هلمند کې د طالب نفوذ د کمیدو په موخه باید هلمند او نورو جنوبي سیمو او خلکو ته اړین واک ورکول سوی وای. خو بدبختانه دا کار ونه سو

په ۲۰۰۶ کال کې ناټو اعلان وکړ چې برطانیه به په هلمند کې د ۳۰۰۰ نړیوالوځواکونو مشري کوي او دا ځواکونه به د ترهګرۍ او تاریاکو په وړاندې د مبارزې عملیات مخې ته وړي. څرنګه چې په هلمند کې حالات نور هم پر خرابیدو سوه نو د برطانوي ځواکونو شمیر ۸۰۰۰ ته ورسیدی او ورسره ترڅنګ یې د امریکا په مشرۍ ائتلافي ځواکونو هم شتون درلود. د اوباما د نوي ستراتیژۍ پر بنسټ چې کله نوي ځواکونه افغانستان ته راولیږدول سوه ۱۱۰۰۰ یې یوازې هلمند ته راغلل. د دې ځواکونو له راتګ سره ښه په پراخه کچه پیسې هم هلمند ته راغلې او په بېلا بیلو برخو کې مصرف سوې. خو د فساد، تېټ ظرفیت او نا اهلو چارواکو له وجې دغه پیسې په سمه توګه پر سمو پروژو ونه لګیدلې.

په ۲۰۱۲ کال کې په شیکاګو کې د ناټو د مشرانو په کانفرانس کې پریکړه وسوه چې تر ۲۰۱۴ کال پورې به نړیوال ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او د پلان سره سم د ۲۰۱۴ کال په جریان کې په هلمند کې د نړیوالو ځواکونو ۱۳۷ بیسونه په بیلابیلو سیمو کې وتړل سول او په هلمند کې د طالبانو او تاریاکو پر وړاندې مبارزه د افغان ځواکونو پر غاړه ده ، دا مهال په هلمند کې تر ۳۰۰۰۰ زیات افغان ځواکونه له طالبانو سره په جګړه کې بوخت دي ولې بیا هم شمالي هلمند (موسی کلا، کجکی، باغران، نوزاد، سنګین) تر ډېره د طالبانو په لاس کې دي. یوازې جنوبي هلمند په نسبي ډول پر ارامه دی. د امنیتي ستونزو تر څنګ بله مهمه مسئله د تاریاکو ده ، د تاریاکو د کښت کچه څو چنده سوې ده او د شمالي هلمند د ناامنه کېدو په صورت کې دا کچه نوره هم پر ډیریدو ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې امنیتي ستونزو د حل په موخه د خلکو، د خلکو د استازو او مدني بنسټونو له خوا له ولایتي اداري او مرکزي اداري څخه په وار وار غوښتني سوي دي او د حل په موخه یې ولایتي او مرکزي اداري یو شمیر هڅې کړي دي خو ستونزې بیا هم پر خپل حال پاته دي او ورځ تر بلې په چټکۍ سره د ډیریدو پر خوا رواني دي.
وړاندیز.
دا سمه خبره ده چې په روانو ستونزو کې یو شمیر بهرنیي کړۍ لاس لري یا په هلمند کې د افغان ځواکونو تر منځ نه همږغي او فساد د دې ستونزو په ډیریدو کې مهم رول لري خو زموږ یوې خبرې او مهمې خبرې ته فکر نسته او هغه داچې موږ د هیواد د یوه ستر ولایت د امنیت د جوړیدو او ښه کیدو په هڅه کې یو. دومره ستر ولایت چې کې یې له کاپیسا سره مقایسه کړو نو د کاپیسا ۳۱ برابره کیږي او که یې له ننګرهاره سره مقایسه کړو نو ۷ برابره یې کیږي.
هیڅ ممکنه نده چې پدغه امکاناتو او جوړښت دې د دې ستر سیمې امنیت او ثبات وساتل سي په داسې حال کې چې هغه هم د طالبانو او هم د تاریاکو مرکز وي.
یو له وړاندیزونو څخه دا دی چې له هلمنده باید دوه ولایته جوړ سي، شمالي هلمند د زمینداور یا داور په نوم جلا ولایت سي او موسې کلا یې مرکز وټاکل سي او پاته هلمند بیل ولایت. موسی کلا د دوهم ولایت لپاره بهترین موقعت دی ځکه زیاتره شمالي ولسوالۍ سرحد ورسره لري او اوس هم تر ډیره د همدې شمالي ولسوالیو د مرکزیت حیثت لري، دا وړاندیز کیدای سي خپلې ستونزې ولري ځکه د نوي ولایت جوړول په ملي سطحه یوه مسئله ده چې توافق غواړي او هم پراخ امکانات او زموږ د دولت امکانات اوس لږ دي خو د جنوبي افغانستان امن او سکون هم اړین دی.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ